سرلوڅ مرادزی

۲۰۲۳ / ۰۱ / ۳۱

# ترهګر ولې پنجاب نه په نښه کوي؟

پرون د پېښور د يوه جومات په پېښه کې ۱۰۰ تنه وژل شوي او ۲۲۱ تنه نور ژوبل شوی چې د ژوبل کسانو په منځ کې د نورو مړو خطر هم مخ په زیاتېدو دی. د دې پېښې مسوولیت د پاکستان د طالبانو تحریک (TTP) د خپل یوه وژل شوي مشر عمر خالد خراساني په غچ کې اخیستی او ویلي یې دي چې د خراساني د غچ اخیستو لړی به دوام ولري.

اساسي پوښتنه دا ده چې د پاکستان د طالبانو تحریک، د خپل یوه مشر وژنه د پاکستان د حکومت پر غاړه اچوي، خو په غچ کې یې د اسلام اباد او لاهور پرځای، په کوزه پښتونخوا کې وسلوال بریدونه کوي او د څو وچو سره یوځای لامده هم سوځي یعني د څو پولیسو سره چې هغوی کې هم زیاتره ځایی خلک دي ولسي وګړي او پښتانه وژني؟

که پاکستاني طالبان رېښتیا هم د پنجابي حکومت خلاف وي، ولې پنجاب نه په نښه کوي چې په پښتونخوا او ټوله سیمه کې د جګړې او شرارت مرکز ګڼل کیږي؟

که چیرې پاکستاني طالبان دا شان عملیات چې په پېښور کې یې ترسره کړل، درې څلور ځلې په اسلام اباد او لاهور کې پلي کړي، یوخوا به ثابته کړي چې دوی د پنجاب، امریکا او انګریز ګډ پوځ نه دی او بلخوا به د خپل غچ خبره چې د ولسونو د تېرایستلو لپاره یې کوي، سپینه کړي چې نه، په ریښتیا له پنجابه غچ اخلي.

د پنجابي اداري او د پاکستاني طالبانو د تحریک شالید او موخو ته چې سرې ګوري، دواړه لوري یو هدف تعقیبوي او هغه دا چې د ډیورنډ د تپلې کرښې دواړه غاړو ته افغان ـ پښتون سیمه د جګړې مرکز وساتي. پنجاب چې د امریکا او انګریز ستراتیژیک ملګری دی، غواړي د افغان ـ پښتون سیمه په جنوبي اسیا کې د جګړې او تاوتریخوالي دایمي زیرمه یا په بله وینا «علاقه غیر» پاتې شي. دلته به حکومت، نظام او مدني قانون نه وي. د سیمې او نړۍ د ترهګرو ځاله به وي. دا ترهګر به دوی د خپلو ستراتیژیکو موخو لپاره لوبوي او کاروي. پنجاب به امریکا او انګریز سره د ګډو موخو په لامل، یوخوا د ترهګرو په سمبالولو له دغو هیوادو ډالر راشکوي او بلخوا به د خپلو شوونیستي او ملیتاریستي ستراتیژیو د پلیتوب لپاره د خپل پوځ په څنګ کې ترهګر کاروي.

د خندا وړ دا ده چې کرکېچ د هند او پاکستان تر منځ په پوله زیات دی، هندوستان تازه په تازه د پاکستان سره په پوله پوځي تمرینونه وکړل، خو پاکستان خپل پوځیان په پښتونخوا او د ډیورنډ پر کرښه دېره کوي!

د افراسیاب خټک په وینا« د طالبانو پروژه د دې لپاره ډیزاین شوې چې د ډیورنډ فرضي کرښې دواړو خواوو ته پښتانه او افغانان پرې وځپل شي. افغانستان کې د جمهوري نظام له سقوط وروسته د پاکستاني طالبانو زرګونه بندیان د طالبانو د حاکمې اداري له لوري د پاکستاني جنرالانو په غوښتنه خوشې او د سوات او وزیرستان سیمو ته واستول شول، **د پاکستاني طالبانو پیاوړتیا د دوحې تړون برخه ده**.تاند»

د کوزو افغانانو مشر اروابناد خان عبدالولي خان پخوا یوې غونډې ته په وینا کې ویلي ول« پاکستاني جنرالانو او امریکایانو خپلو منځو کې ساز باز کړی او تر هغو چې له پاکستانه امریکا نه وي وتلې، د دې ملک ستونزې نه شي هواریدای»

ولیخان قصه کوي او وایي په کوهي کې سپی لوېدلی وو، د کلي خلک ملا ته ورغلل چې څو ډولچې اوبه وباسي چې اوبه پاکې شي؟ ملا ورته وویل چې ۶۰ ډولچې اوبه وباسی نو کوهی به پاک شي. ولیخان زیاتوي خو که چیرې سپی په کوهي کې پروت وي؛ ۶۰ ډولچې نه، که ۶۰۰ ډولچې اوبه هم له کوهي وباسي، اوبه نه پاکیږي.

ترڅو امریکا له پاکستانه نه وي وتلې، د دې ملک چارې نه ښه کیږي!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

افغانستان، پښتونخوا او ټوله جنوبي اسيا؛ پنجاب سره په ګډه د امريکا او انګريز د ويجاړونکو پاليسو له کبله په يو دايمي ناورين بدله شوې او له دې ناورين وتل ايجابوي چې د سيمې سوله غوښتونکي ځواکونه پخپلو پاليسيو له سره غور وکړي او يو شريک دريځ ته ورسيږي!

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ